# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Scientific | علمی |
|---|---|



ژوزف ستالین (۱۹۵۰)
ژباړه: فرهاد ویاړ
۱۹ جون ۲۰۱۹


# د ژبپوهنې مسئلې
# (د ژبپوهنې د مسئلو په اړه د مارکسیزم لید)
# (۷)

**ملګرو د. بلکین او س. فورر ته**

ستاسو لیکونه مې تر لاسه کړل.

تیروتنه مو په دې کې ده چې تاسو دوه بیلابیلې موضوعګانې سره ګډې کړې دي او ملګري کراشنینیکوا ته زما د ځواب د بحث موضوع مو له بلې موضوع سره بدله کړې ده.

۱. ما په هغه ځواب کې پر ن.ی. مار چې د ژبې (وینایي ژبې) او فکر سره سر او کار لري او ژبه له فکر څخه جلا کوي او په دې ډول ایده الیزم ته ولیږي، نیوکه کړې وه. د همدې لپاره زما په ځواب کې هغو نورمالو انسانانو ته اشاره وه چې د خبرو استعداد لري. زه د پخوا لا ډېر باورمن یم چې د دا شان انسانانو تفکر یوازې د ژبنې مصالحو پر اساس رامینځته کیږي او لوڅ افکار چې د ژبنې مصالحو سره تړاو نلري د هغو خلکو په منځ کې چې د خبرو استعداد لري، شتون نلري.

تاسو د دې په ځای چې دا نظریه ومنئ یا یې هم رد کړې، له غیر عادي انسانانو څخه غږیږې، هغه خلک چې ژبه نلري، کاڼه او ګونګیان دي او له ژبې بې برخې دي، نو ښکاره خبره ده چې د هغوی فکر د ژبې د مصالحو پر بنسټ نه رامینځته کیږي. څنګه چې ګورې، دا موضوع بیخي بله موضوع ده چې ما تر بحث لاندې نه ده نیولې او نیولی هم نشم، ځکه چې ژبپوهنه د هغو عادي انسانانو سره تړاو لري چې د خبرو استعداد لري، نه هغه غیر عادي کاڼه ـ ګونګیانو سره چې د خبرو کولو استعداد نلري.

تاسو د بحث موضوع د یو بل مطلب سره چې زموږ د بحث موضوع نه ده، بدله کړې ده.

۲. د ملګري بلکین له لیک څخه څرګندیږي چې هغه د « الفاظو ژبه» (وینایي ژبه) د «حرکتونو او اشارو له ژبې» (د مار په اصطلاح: د«لاسي» ژبې) سره برابر ګڼي. داسې ښکاري چې هغه فکر کوي چې د حرکتونو او اشارو ژبه او د الفاظو ژبه یو ډول اهمیت لري او کله چې انساني ټولنې د الفاظو ژبه نه درلوده، «لاسي» ژبې د الفاظو د ژبې پر ځای چې وروسته رامینځته شوه، کار کاوه.

که ملګری بلکين په رښتيا هم دا ډول فکر کوي، نو لويه تيروتنه کوي. وينايي ژبه يا د الفاظو ژبه تل د بشري ټولني يوازينۍ ژبه ده چي کولای شي د خلکو د اړيکو د وړ وسيلي په توګه کارنده ووسي. تاريخ داسي انساني ټولنه، ان ډيره وروسته پاتي ټولنه، نه پيژني چي خپله ځانګړی وينايي ژبه ونلري. توکمپيژندنه (ايتنوګرافي) داسي يو وروسته پاتی قوم نه پيژني چي خپله وينايي ژبي نه وي درلودلي که دا په تيرې پيړۍ کي د استراليايانو او يا هم د تيرادل فيګو په شان لرغوني او ان ډير لرغوني قومونه هم وي. د بشريت په تاريخ کي، وينايي ژبه يو له هغو ځواکونو څخه وه چي له انسانانو سره يي مرسته وکړه چي د ژويو له نړۍ بيل شي، په ټولنو کي سره راټول شي، خپل د فکر کولو استعداد پرمختللی کړي، ټولنيز توليد تنظيم کړي، د طبيعي ځواکونو په وړاندي بريمنه مبارزه مخي ته بوځي او نننی پرمختګ ته چي يي لرو، ورسيږي.

د همدې لپاره، په اصطلاح د حرکتونو او اشارو ژبه چي هيڅ ډول بداينه نلري او محدوديتونه يي هم زيات دي، نو اهميت هم ډير کم دی. که ښکاره وغږيږو، ژبه ورته ويلی نشوو، ان د ژبی هغه ځايناستي هم نه ګڼل کيږي چي په يو ډول نه يو ډول د وينايي ژبي پر ځای وکارول شي. که څه هم له زياتو محدودو امکاناتو څخه برخمنه ده، خو د يوې مرستندويه وسيلي په توګه يي انسان کله ناکله د خپلو خبرو پر دې نکتي يا هغي نکتي د ټينګار لپاره کاروي. څرنګه چي ساده لرګين رمبی د يوي د يو پرمختللي پنځه پاله څنځيري تراکتور يا د تخم شيندني تراکتور سره نشي پرتله کيدلی، همدا ډول د حرکتونو او اشارو ژبه هم له وينايي ژبي سره د پرتلي وړ نه ده.

۳. څرنګه چي معلوميږي تاسو لومړی د کنو ـ ګونګيانو سره ليوالتيا لری او بيا د ژبپوهني له مسئلو سره. داسي ښکاري چي دقيقاً همدې وضعيت هڅولی يي چي يو لړ پوښتني له ما څخه وکړئ. ډير ښه، که تاسو ټينګار کوئ زه مخالف نه يم چي هيله مو پوره کړم. د کڼو ـ ګونګيانو په تړاو موضوع څنګه ده؟ آيا دوی د فکر کولو استعداد لري؟ آيا کولای شي افکار وزيږوي؟ هو، هغوی د فکر کولو استعداد لري، په هغوی کي افکار رامينځته کيږي. ښکاره ده چي له هغه ځايه چي کانه ـ ګونګيان د خبرو له استعداده بی برخي دي، د هغوی فکر د ژبني مصالحو پربنسټ موجوديت نه مومي.آيا دا موضوع دا نه ښکاره کوي چي د کنو ـ ګونګيانو افکار بربنډ دي او له «طبيعي معيارونو» (د مار اصطلاح) سره تړاو نلري؟ نه، داسي نه ده. د کنو ـ ګونګيانو افکار يوازې د هغو انځورونو، احساساتو او تصوراتو پر بنسټ راڅرګنديږي او شتون لري چي په ورځني ژوند کي د بهرنی نړۍ د اشياو او د هغوی تر منځ د اړيکو له لارې د دوی په افکارو کي رامينځته کيږي. ښايي د باصري، لامسي، ذائقي او شامي حواسو منندوی ووسو. له دې انځورونو، احساساتو او تصوراتو پرته، افکار تش دي، له محتوای محرومه دي، د همدې لپاره شتون نلري.

**۲۲ جولای، ۱۹۵۰**

پراودا، اګست ۲، ۱۹۵۰